پښتنو تعداد: (۱۰۸)

د ښتنو ډولونه( تشریح، څلور ځوابه، خانه خالی، لنډ ځوابه او صحیح او غلط)

مضمون عنوان( ریاضی)

ټولګي( نهم )

# تشریحي پوښتني

**لومړی پوښتنه:** د کوچني قوس او لوی قوس توپیر ثابت کړئ، په داسي حال کي چي د کوچني قوس اندازه $x = 60$ او لوی قوس اندازه $5x = 300$ ولري؟

**دویمه پوښتنه:** د دایری قطر په لاس راوړئ، چي وتر یي $AB = 8cm$ په داسی حال کي چي د وتر عمودی فاصله د دایری له مرکز څخه $OH = 3cm$ وی؟

**دریمه پوښتنه:** که چیرې p نقطه د دایرې څخه بهر $c(o,r)$ موقعیت ولري او د دایرې له مرکزه یي فاصله ۱۳سانتيمتره وي، او د دایرې قطر ۱۰سانتيمتره وي، نو د یادې نقطي څخه د دایرې مماس کرښي اوږدوالی څو سانتيمتره دی؟

**څلورمه پوښتنه:** په لاندی شکل کي د $x$ پیدا کړئ؟




**پنځمه پوښتنه:** د شکل په مرسته د $\hat{a},\hat{b}$ زاویو قیمت پیدا کړئ؟




**شپږمه پوښتنه:** که یوه نقطه Pد دایرې له مرکز څخه ۱۳cmفاصله ولري او که د دایرې قطر ۱۰cmوي، نو د نقطي Pڅخه د دایرې ته د خارجي قاطع برخه محاسبه کړئ!

**اوومه پوښتنه:** که د دایرې څخه د یوې خارجي نقطي مماس کرښه ۱۲سانتي متره اوږدوالی ولري او که د دایرې قطر ۵cmوي، نو د Pنقطي څخه د دایرې مرکز ته فاصله محاسبه کړئ؟

**اتمه پوښتنه:** د P(-۱,۳) نقطي فاصله د هغه مستقیم له وسطی نقطي څخه محاسبه کړئ، چي د A(۱,۲)او B(۳,-٤) نقطو څخه تیریږي؟

**نهمه پوښتنه:** د هغه مستقیم خط میلان پیدا کړئ، چي د A(۳,٥)او B(٤,٦) نقطو څخه تیریږي؟

**لسمه پوښتنه:** د هغه مستقیم خط لپاره د k قیمت معلوم کړئ، چي د A(۲,٥)او B(٤,k) نقطو څخه تیریږي او میلان یي هم ۳وي؟

**یولسمه پوښتنه:** د یوه مثلث د دوو زاویو مجموعه ۱۰۰ ده او د دوی تفریق ۲۰ ده. د دوی الجبري معادلي ولیکئ او د تعویض طریقي په کارولو سره د هرې زاویي قیمت پیدا کړئ؟

**دولسمه پوښتنه:** د افنا په طریقه سره معادلات سیستم $\begin{cases} 3x + 2y = 4 .......I \\ 2x - 3y = -1......\Pi \end{cases}$ حل کړئ؟

**دیارلسمه پوښتنه:** که چیري په یو مثلث کي د هغه زاویه $Sin63^\circ = 0.891$ سره وی او مقابله ضلع هم ۳ واحده وی د وتر طول پیدا کړئ؟

**څوارلسمه پوښتنه:** یو الجبری افاده ساده کولو لپاره کومه یوه عملی جمع ، تفریق ، ضرب، تقسیم ، قوسین او طاقت رفع کول په ترتیب اول، دوم، دریم..... ترسره کوو؟

**پنځلسمه پوښتنه:** دغه $\sqrt{18x}+\sqrt{200x}-\sqrt{72x}$ افاده ساده کړئ؟

**شپاړسمه پوښتنه:** دغه $a^2-b^2+2ac-c^2$ افاده تجزیه کړئ؟

**ولسمه پوښتنه:** دویمه درجه معادله $x^2+2x-8=0$ جذورنه یې د محمد بن موسی فورمول په واسطه په لاس راوړئ؟

**اتلسمه پوښتنه:** کسری افاده $\frac{3x+5}{2x-2}$ اشاره تعیین کړئ او په کومو ساحو کي مثبت او په کومو ساحو کي منفي دی؟

**نولسمه پوښتنه:** باالترتیب د ریاضي عملیي په دغه $3-2^4\times5+(16\div4)$ افادی ترسره کړئ؟

**شلمه پوښتنه:** د لسه ضلعیي زاویو مجموع په لاس راوړئ؟

**یو ویشتمه پوښتنه:** د یوي دایری شعاع $r=14cm$ سره وي د دایري مساحت پیدا کړئ؟

**دوه ویشتمه پوښتنه:** که چیري د یوي دایری محیط $14\pi cm$ سره وی د دایری مساحت په لاس راوړئ؟

## لنډ ځوابه پوښتني

**اوله پوښتنه:** په دایری باندی رسم شوي یو دری منظمه ضلعی عبارت دی له متساوی الاضلاع وی، د هری محیطي زاویه یي څو درجه دی؟

**دویمه پوښتنه:** دایری باندی رسم شوي یو څلور منظمه ضلعی عبارت دی له مربع وی، د هری محیطي زاویه څو یي درجه دی؟

**دریمه پوښتنه:** د یوی دایری محیط مساوی له څو درجه څخه دی؟

**څلومه پوښتنه:** په دغه معادله $y=\frac{1}{2}x+2$ میل یي مساوی دی له ؟

**پنځمه پوښتنه:** هغه مستقیم خط چي موازی د y محور سره وی او $x=a$ نو د هغي معادلی خط چی A(۳,۱) څخه تیر شي ولیکئ؟

**شپږمه پوښتنه:** د $Sec\theta$ معکوس رابطه ولیکئ؟

**اوومه پوښتنه:** د $Cotg\theta$ معکوس رابطه ولیکئ؟

**اتمه پوښتنه:** د $\sin\theta$ معکوس رابطه ولیکئ؟

**نهمه پوښتنه:** د $Cos30^o$ قیمت مساوی دی؟

**لسمه پوښتنه:** د $Sin30^o$ قیمت مساوی دی؟

**یولسمه پوښتنه:** د $Cos60^o$ قیمت مساوی دی؟

**دولسمه پوښتنه:** د $Sec60^o$ قیمت مساوی دی؟

**دیارلسمه پوښتنه**: د دغې افاده $\sqrt{x}+1$ ناطق کول عبارت دی له؟

**څوارلسمه پوښتنه**: که چیری یو مستقیم خط د x مثبت محور باندی حاده زاویه جوړه کړي میل يي عبارت دی له ؟

**پنځلسمه پوښتنه**: که چیری یو مستقیم خط د x مثبت محور باندی منفرجه زاویه جوړه کړي میل يي عبارت دی له ؟

**شپاړسمه پوښتنه**: که چیری $m_1 \times m_2 = -1$ سره وی هغه دو خطه یو له بل سره څه ډول دی؟

**اولسمه پوښتنه**: که چیري په خطی معادلاتو سیستم کی خطوط په وضیعه کمیاتو که یو بل په یوه نقطه کي سره قطع کړي معادلات څو به حل لري؟

**اتلسمه پوښتنه**: که چیري په خطی معادلاتو سیستم کی خطوط په وضیعه کمیاتو که سره موازی وی معادلات څو به حل لري؟

**نولسمه پوښتنه**: که چیري په خطی معادلاتو سیستم کی خطوط په وضیعه کمیاتو که یو بل باندی منطبق وی معادله څو به حل لري؟

**شلمه پوښتنه**: دوه افقی او عمودی محورونه یو بل سره په مستوی کي عموداً قطع کړي په څه نوم سره یادیږی؟

**یو ویشتمه پوښتنه**: د وضیعه کمیات افقی محور په څه نامه سره یادیږی؟

**دو ویشتمه پوښتنه**: د وضیعه کمیات عمودی محور په څه نامه سره یادیږی؟

**درویشتمه پوښتنه**: هر کله د دویمی درجی معادله $\Delta \prec 0$ سره وی معادله په کوم حقیقی اعدادو ست کي حل لري؟

## څلور ځوابه پوښتني

**لومړی پوښتنه**: لاندی ست د ریاضی سمبولونو په مرسته د دایری تعریف سره ښیو:

الف: $I = r$ ب: $|\overline{OA}| = r$

ج: $I = \{A / |\overline{OA}| = r\}$ د: هیڅ یو

**دویمه پوښتنه**: د دایری مماس خط C(۰,۸) سره وی او BC = ۱۰ cm د AB طول په لاس راوړئ؟

الف: $AB = 36cm$ ب: $AB = 6cm$

ج: $AB = 5cm$ د: الف و ب صحیح دی

**دریمه پوښتنه**: که چیری په دایره کي C(O,r) مرکزی زاویه AOB=٤٥° سره وی د ABC محیطی زاویوی وسعت په لاس راوړئ؟

الف: $\angle ABC = \frac{1}{2}\angle AOB$, $\angle ABC = \frac{1}{2}\times 45^\circ = 22.5^\circ$ ب: $\angle ABC = \frac{1}{3}\angle AOB$, $\angle ABC = \frac{1}{3}\times 45^\circ = 15^\circ$

ج: الف و ب صحیح د: هیڅ یو

**څلورمه پوښتنه**: که چیری په دایره کي C(O,r) مرکزی زاویه AOB=٤٥° سره وی د BCD مماس زاویوی وسعت په لاس راوړئ؟

الف: $\angle ABC = \frac{1}{2}\times 45^\circ = 22.5^\circ$
$\angle BCD = \angle ABC$
$\angle BCD = 22.5^\circ$

ب: $\angle ABC = 2\times 45^\circ = 90^\circ$
$\angle BCD = \angle ABC$
$\angle BCD = 90^\circ$

ج:الف و ب صحیح دی　　　د: هیڅ یو

**پنځمه پوښتنه:** د یو شپږ ضلعی، داخلی زاویو مجموعه چي په دایره کي رسم شوی وی څو درجي دی؟

الف:۹۰　　　ب: ۳٦۰

ج:۱۲۰　　　د: 720

**شپږمه پوښتنه:** د A(۱,۷) ,B(٥,٤) نقاط راکړل شوی د هغه فاصله عبارت دی له؟

الف: $k = \frac{13}{20}$　　　ب: $k = \frac{12}{20}$

ج: $k = \frac{1}{2}$　　　د: هیڅ یو

**اوومه پوښتنه:** د K عددی قیمت دا ډول تعیین کړئ، چي د قطعه خط طول له A(۲,۳) , B(٥K,٦) نقطو څخه تیر شوی وی او ٥ چند k سره وی؟

الف:۲٥　　　ب: ۱٥

ج:٥　　　د: هیڅ یو

**اتمه پوښتنه:** که چیری د A(۱,۳) , B(۷,٥ مختصات انجام د AB قطعه خط سره وی د AB مختصات وسطی نقطه عبارت دی له ا؟

الف: $(2,2)$　　　ب: $(4,4)$

ج: $(4,7)$　　　د: $(2,6)$

**نهمه پوښتنه:**هغه مستقیمی معادله چي A(۳,٤) , B(۲,-۱) نقطو څخه تیریږی عبارت دی له ؟

الف: $-y = -5x + 11$　　　ب: $y = -5x + 11$

ج: $-y = 5x + 11$　　　د: $y = 5x + 11$

**لسمه پوښتنه:** مستقیمی معادله دا ډول معنی لری چي خط يي له (-۳,۰),(۰,٤) نقطو څخه تیر شی؟

الف: $y = -\frac{4}{3}x + 4$　　　ب: $y = \frac{4}{3}x + 4$

ج: $y = \frac{4}{3}x - 4$　　　د: هیڅ یو

**یولسمه پوښتنه:** که دغه افاده $\frac{x^3 - y^3}{x^2 + xy + y^2}$ ساده کړو عبارت دی له:

الف: $x^2 - y^2$ ب: $x + y$

ج: $x - y$ د: هیڅ یو

**دولسمه پوښتنه:** د $x^5 - 2x^3 + x^2 - 8x + 4$ افادی حاصل تقسیم پر $x^2 - x - 4$ باندی عبارت دی له:

الف: $x^3 + x^2 + 3x + 8$ ب: $x^3 + x^2 + 3x - 8$

ج: $x^3 + x^2 + 3x + 8x$ د: هیڅ یو

**دیارلسمه پوښتنه:** د کسر $\frac{2}{\sqrt[3]{a}}$ مخرج گویا (ناطق) کړئ؟

الف: $\frac{2\sqrt[3]{a^2}}{2a}$ ب: $\frac{2\sqrt[3]{a^2}}{a}$

ج: $\frac{2\sqrt[3]{a^2}}{a^2}$ د: هیڅ یو

**څوارلسمه پوښتنه:** د ۲/۳/٤/٦/۹/۱۰ اعدادو میانه عبارت دی له:

الف: 5 ب: 4.5

ج: 6 د: هیڅ یو

**پنځلسمه پوښتنه:** د سټونو $A = \{1.2.3\}$ , $B = \{3.4.5\}$ تقاطع عبارت دی له:

الف: $A \cap B = \{1, 2, 3, 4, 5\}$ ب: $A \cap B = \{2, 4\}$

ج: $A \cap B = \{3\}$ د: هیڅ یو

**شپاړه سمه پوښتنه:** د 177 تر ټولو لوی او 140 تر ټولو کوچنی اعدادو وسعت عبارت دی له:

الف: 177 ب: 158.5

ج: 37 د: هیڅ یو

**اولسمه پوښته:** د یو شپږ ضلعی، داخلی زاویو مجموعه چی په دایره کی رسم شوی وی عبارت دی له؟

الف: 720 ب: 180

ج: 360 د: هیڅ یو

**اتلسمه پوښته:** د یو څلور ضلعی داخلی زاویو مجموعه عبارت دی له:

الف: $S_4 = 360^\circ$ ب: $S_4 = 380^\circ$

ج: $S_4 = 60^\circ$ د: هیڅ یو

**نولسمه پوښته:** د دایری محیط $14\pi cm$ سره وی د دایری شعاع عبارت دی له:

الف: $r = 14$ ب: $r = 14$

ج: $r = 7$ د: هیڅ یو

**شلمه پوښته:** د هری نقطه $P(x, y)$ کمیات وضعیه مبدأ فاصله عبارت دی له:

الف: $\overline{OA} = \sqrt{x^2 + y^2}$ ب: $\overline{OA} = x^2 + y^2$

ج: $OA=x + y$ د: هیڅ یو

**یوویشتمه پوښته:** د مستقیم خط میل عبارت دی چې $A(3, 5), B(4,6)$ نقطو څخه تیریږی:

الف: $M_{\overline{AB}} = (7,11)$ ب: $M_{\overline{AB}} = 1$

ج: $M_{\overline{AB}} =7$ د: هیڅ یو

**دوویشتمه پوښته:** د مستقیم خط میل چې له $p(2,3)$ نقطی او له وضیعه کمیات څخه تیر شي عبارت دی له:

الف: $M_{\overline{po}} = \frac{3}{2}$ ب: $M_{\overline{po}} = \frac{2}{3}$

ج: $M_{\overline{po}} = \frac{3}{5}$ د: هیڅ یو

## خانه خالي پوښتنی

**اوله پوښته:** هغه نقطي چې فاصله يي له يوې ( ) دايرې له شعاع سره برابر وي، **دايره** بلل کيږي.

**دويمه پوښته:** د دايرې قطعه د سطحې يوه برخه ده چې د ( ) لخوا جدا شوې وي.

**دريمه پوښته:** قطاع دايره د دايرې يوه برخه ده چې ( ) لخوا جدا شوې وي.

**څلورمه پوښته:** د مثلث محيطي دايره هغه دايره ده چې د مثلث رأسونه د هغې پر محيط موقعيت لري، او د مثلث اضلاع ( ) دايرې ته وي.

**پنځمه پوښته:** يو منظم درېضلعی چې په دايره کې رسم شوی وي ( ) مثلث دی ؟

**شپږمه پوښتنه:** يو منظم څلورضلعی چې په دايره کي رسم شوی وي ( ) دی؟

**اوومه پوښتنه:** هغه کرښه چې د دايرې مرکز له محيط سره نښلوي( ) بلل کيږي.

**اتمه پوښتنه:** وتری چې د دايرې له مرکز نه تيريږي ( ) په نوم يادېږي.

**نهمه پوښتنه:** قسمتی له دايرې سطح چې د وتر لخوا د دايرې له سطحه جلا شوی وي د ( ) په نوم يادېږي.

**لسمه پوښتنه:** هغه قطعه خط چې دايری محيط دو نقطی سره وصل کړي( ) نومول کيږی.

**يولسمه پوښتنه:** د دايری محيط يو قسمت په ( ) نوم ياديږی.

**دولسمه پوښتنه:** مستقيم چې د دايرې سره يوازې يوه مشترکه نقطه ولري د ( ) په نوم يادېږي..

**ديارلسمه پوښتنه:** د دايری شعاع د تماس په نقطه کي د مماس پر سر( ) دی.

**څوارلسمه پوښتنه:** د مرکز د دايری څخه مساوی وترونه سره ( )دی.

**پنځلسمه پوښتنه:** د يوي مضلعی ټولو راسونو څخه يو دايره تيره شی دغي مضلعی ته ( ) وايي.

**شپاړسمه پوښتنه:** هغه مضلع چې اضلاع او زاويې سره مساوی وی نو ( ) ويل کيږی.

**ولسمه پوښتنه:** هره هغه زاویه چې د دو قاطع د تقاطع په دایره کي داخل تشکیل شوی وی (                ) نومول کیږي.

**اتلسمه پوښتنه:** هر مستقیم خط چي د $x$ محور باندی حاده زاویه جوړه کړي د هغه میل(                ) او که چیري منفرجه زاویه جوړه کړي د هغه میل (                ) دی؟

**نولسمه پوښتنه:** موازی مستقیمونه لرونکی د (                ) میلونه دی؟

**شلمسه پوښتنه:** که چیری د دومي درجي معادلی یک مستقیم خط، منحني په دوه نقطو کي قطع کړي نو معادله(                )لری.

**صحیح او غلطی پوښتني**

**اوله پوښتنه:** مضلع عبارت دی هغه هندسی شکل څخه دي چي د دریو او یا له هغه څخه زیات قطعه خطونو په واسطه محدود شوی وي.

**دویمه پوښتنه:** منظم مضلع هغه مضلع دی چي لرونکي د مساوی اضلاع او زاویاوو وی.

**دریمه پوښتنه:** د خارجي محیطي دایره د مثلث هغه دایره ده چي د مثلث د دوو خواوو امتداد ته او د دریمي خوا د باندې برخي ته مماس وي.

**څلورمه پوښتنه:** مثلثاتی معادله $\sin^2 45^o + Cos^2 45^o = 1$ اسره دی؟

**پنځمه پوښتنه:** که د یو نامساوات دواړه خواوې په منفي عدد ضرب شي، د نامساوات لوری بدلیږي.

**شپږمه پوښتنه:** د اعدادو ۲,۳,٤,٥,۱,٤ میانه برابر له ٥ ده.

**اوومه پوښتنه:** د لاندې اعدادو میانه۰ ۲/۳/٤/٦/۹/۱ برابر له ٤ ده.

**اتمه پوښتنه:** یوه برخه د دایرې له محیط څخه د دایرې قوس بلل کیږي..

**نهمه پوښتنه:** هغه کرښه چي د دایرې مرکز له کومي یوې نقطي سره د دایرې په محیط کې وصل کړي، قطر نومیږي.

**لسمه پوښتنه:** هغه وتر چي د دایرې له مرکزه تېر شي، د دایرې شعاع بلل کیږي.

**یولسمه پوښتنه:** هغه برخه د دایرې له سطحي څخه چي د دوو شعاعونو او اړوند قوس له خوا جلا شوې وي، د دایرې قطاع بلل کېږي.

**دولسمه پوښتنه:** هغه برخه د دایرې له سطحي څخه چي د یوه وتر له خوا جلا شوې وي، د دایرې قطعه بلل کېږي.

**دیارلسمه پوښتنه:** هغه کرښه چي د دایرې په محیط کي دوه نقطي سره وصل کړي، د دایرې وتر بلل کېږي.

**څوارلسمه پوښتنه:** د دایرې شعاع د تماس په نقطه کي په مماس کرښه عمود وي.

**پنځلسمه پوښتنه:** یوه مستقیمه کرښه چي له دایرې سره یواځې یوه ګډه نقطه ولري، د دایرې مماس بلل کېږي.

**شپاړسمه پوښتنه:** د هرې مماسي زاویې اندازه د مقابل قوس نیمایي وي.

**ولسمه پوښتنه:** که د دوو دایرو د مرکزونو ترمنځ فاصله صفر وي، نو هغه دایرې متحدالمرکز بلل کېږي.

**اتلسمه پوښتنه:** مساوي وترونه له مرکزه مساوي فاصله لري.

**نولسمه پوښتنه:** هغه ټولي نقطي چي له دایرې له مرکزه یې فاصله د دایرې له شعاع سره مساوي وي، د دایرې پر سطح موقعیت لري.

**شلمه پوښتنه:** دایره چي د مثلث د رأسونو نه تیرېږي یا په خارجي توګه د مثلث په یوه رأس باندې مماس وي، هغه د مثلث د محیط دایره نومېږي.

**یو ویشتمه پوښتنه**: زاویه چې د دو مماس، دو قاطع او یو مماس او یو قاطع د تقاطع په نتیجه کې په دایره باندې بهر جوړ شي، هغه زاویهٔ خارجي دایره نومیږي.